PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۰۷

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۱۰۷ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۸۲ گڼه د ۱۳۹۰ ل-د زمري ۲۵ مه - د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق رمضان المبارک ۱۶ مه د ۲۰۱۱ د اګست ۱۶ مه

د ناټو درې سرتېرې د مرګ ښکار شول

د ناټو په مشرۍ ایساف ځواکونو د افغانستان په ختیځ کې د خپلو درېیو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ. دغه خبر په کابل کې د ایساف ځواکونو د مطبوعاتي دفتر له خوا د زمري پر ۲۴مه په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ورکړل شوی دی. سرچینې زیاته کړې، چې دغه سرتېري وړمه ورځ د افغانستان په ختیځ کې د ببلابېلو چاودنو پر مهال وژل شوي دي. د ایساف خبرپاڼې د وژل شویو سرتېرو هویت او د پېښو کره ځای نه دی په ډاګه کړی، خو باید وویل شي، چې په ختیځ کې د ایساف امریکایي سرتېري مېشت دي. **۳مخ**

هزاران کشته و مجروح، حاصل پنجاه هزار عملیات هوایی ناتو!



گفته می شود، نیروهای ناتو و آیساف مستقر در کشور، طی سال گذشته بیشترین عملیات نظامی را علیه مخالفان مسلح دولت انجام داده اند. چنانکه منابع این پیمان دیروز فاش ساخت، نیروهای بین المللی در سال گذشته اضافه از ۵۰ هزار ماموریت هوایی را در افغانستان اجرا کرده اند. باید گفت، این بیشترین میزان عملیات های نظامی طی ده سال گذشته در افغانستان است که به وسیلهٔ نیروهای بین المللی کمک به صلح (یعنی کسانی که برای استقرار صلح در این کشور مستقر شده اند) انجام می گیرد. هرچند، آیساف به طور مشخص نگفته که در جریان ده ها هزار عملیات هوایی که به هدف جلوگیری از تحرکات مخالفان از سوی نیروهای آیساف در سال گذشته در افغانستان اجرا شده، چه تعداد از مخالفان کشته و زخمی شده اند، اما گزارش هایی وجود دارد که در جریان این عملیات بزرگ هوایی، در کنار ده ها مخالف مسلح، صدها تن از مردمان ملکی نیز کشته و مجروح شده اند؛ ده ها قریه به ویرانه مبدل گردیده است؛ چنانکه بر پایهٔ آمارهای تازه، طی عملیات هوایی نیروهای ناتو سال گذشته، در ولسوالی میوند قندهار، در حدود ۱۷ قریه به کلی نابود و ۴۳ باغ کاملا منهدم گردید. افزون براین، گفته می شود که در نتیجهٔ این عملیات ها، صدها خانواده مجبور به ترک خانه های شان و به دیار بیگانه مهاجر گردیده اند. **ص۳**

لاشهٔ هلیکوپتر رادارگریز امریکا در اختیار چین

به ادامهٔ تیره گی روابط پاکستان و امریکا، اسلام آباد دیروز به چین اجازه داد، به یک هلیکوپتر امریکایی سقوط کرده در پاکستان دسترسی پیدا کند.

یادآوری می شود، این هلیکوپتر طی عملیات نیروهای امریکایی در منطقه ایبت آباد سقوط کرده بود.

واشنگتن مدعی است، در این حمله ماجراجویانه "بن لادن" به دست نظامیان امریکایی کشته شد.

روزنامهٔ "فیننشال تایمز" گزارش داد، علی رغم منع امریکا، پاکستان به چینی ها اجازه داد، تا از لاشهٔ این

هلیکوپتر پیشرفته، جدید عکس بگیرند و آنرا مورد تحقیق و بررسی قرار دهند. **ص۳**

ماه مبارک رمضان مبارکباد

پاداش تشکری از شما!

اکنون، با هر بار ازدیاد کریدت ۱۰٪ پاداش بدست آورید! و بیشتر صحبت نمائید!

پیام های کوتاه رایگان ماه مبارک رمضان!

پیام های کوتاه نامحدود را در هر روز بطور رایگان بدست آورید!

در بدل ۵ افغانی در روز!

ON نوشته و به شماره ۷۸۶ ارسال نمائید

پیام کوتاه* رمضان!

ON نوشته و به شماره ۲۳۲۳ ارسال نمائید

اکنون از:

- حدیث
- آیه
- فضایل ماه رمضان

و بسیاری موضوعات دیگر بهره مند گردید!

هدایات صوتی ماه** رمضان!

با شماره ۷۸۶ تماس بگیرید

و در هر زمانی به:

- قرآن شریف
- تاریخ اسلام
- احکام نماز

و بسیاری موضوعات دیگر گوش دهید!



افغان بیسیم
ارتباط همه افغان
Afghan Wireless
Connecting Afghanistan

* الی ۵۰۰ پیام کوتا در روز
** هزینه یکباره اشتراک ۱۵ افغانی و هزینه روزانه ۱ افغانی اخذ می گردد.
*** هزینه تماس ۶ افغانی فی دقیقه می باشد.

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

د حکومت او پارلمان ترمنځ د نااندریو دوام او د هېواد د سیاسي چاپیریال ګونګ تصویر

په هېواد کې روانه سیاسي لانجه د هرې ورځې په تېرېدو سره، نوي اړخونه غوره کوي او تازه پراوونو ته ور دننه کېږي. د ولسي جرګې، حکومت، د ټاکنو کمېسیون، سترې محکمې او لویې څارنوالي جګړه پای نه لري. د ولسمشر کرزي د تېرې چهارشنبې د ګونګ حکم تر صادرېدو وروسته، چې په ترڅ کې د پارلماني ټاکنو هیولایي دوسیه بېرته د ټاکنو کمېسیون ته وسپارل شوه او دغه کمېسیون ته واک ورکړ شو، چې په دې اړه د هېواد د ملي ګټو په پام کې نیولو سره، خپلې چارې برابرې کړي. خو داسې فکر کېږي، چې ولسمشر کرزي، دا ځل خپل پروګرام د ټاکنو کمېسیون پر رییس پلي کوي، لکه څرنګه، چې د ټاکنو کمېسیون رییس هم اعتراف کوي، چې د یو ترسره شوي عمل پر وړاندې قرار لري. د ولسمشر کرزي پلانونه او عملي برنامې، یوازې پر یوه اړخ نه دي تم، له بلې خوا، د هېواد د بېلابېلو ولایتونو او مرکز د استیناف او ابتدایيه محکمې قضایي غړو بیا په یو ډول نه یو ډول خپل ملاتړ د ځانګړې محکمې او استیناف محکمې له حکم څخه اعلان کړی او په خپلو غونډو او ناستو کې له دولت څخه په کلکه غوښتنې کوي، چې د یادو محکمو حکم د پلیتابه ډګر ته وسپاري. له بلې خوا، د ولسي جرګې استازي، هم کرار ناست نه دي، د تېرې چهارشنبې ورځې راهیسې ولسي جرګه تحصن کړی او سر بېره پر دې، له قانون څخه د ملاتړ په نامه یو پیاوړی او غښتلی ایتلاف یې رامنځ ته کړي. په دې موده کې، دغه ایتلاف او تحصن کوونکو استازو په وار وار خبرې کنفرانسونه دایر کړي او خپلې برنامې او داعیې یې نړیوالو او هېوادوالو ته رسولې. ویل کېږي، چې ولسي جرګې په ځانګړې توګه له قانون څخه د ملاتړ ایتلاف نن سې شنبې ورځ هم یوه لویه غونډه رابللې. ویل کېږي، چې په دغه غونډه کې به په لویه پیمانه دیني علمان، د پوهنتون استادان او محصلین او رون اندي او د مدني ټولنې استازي ګډون وکړي.

په هر حال، له دې بهیر څخه، چې په پورته کې، ترې یو څو بیلګې یادونه وشوه، د دولت د درېیو قواوو ترمنځ د کره جګړې او لانجې ښکارندوی دي. دغه لانجه د دې لامل ګرځېدلې، چې هېوادنۍ چارې له خندا او ځندا سره مخ شي، همدا اوس، ولسي جرګې ته د میاشتو میاشتو قوانین او نورې لایحې بې تصویبه پراته دي، ولسي جرګې استازي، دومره وخت نه لري، چې د هېواد لومړنیو او اړینو چارو ته رسېدنه وکړي، همدار نګه د دولت نور قواوو هم له همداسې برخلیک سره لاس او ګرېوان دي. پر دې بنسټ، د لوبو تود بازار بیا همدا بیوزلی ولس دی، چې قرباني کېږي او ګټې یې تر پښتو لاندې کېږي. د ولس هیله د دغه سیاسي لوبو له ټولو غاړو څخه دا ده، چې نور د خدای په خاطر د دې برګ او شین اتن په دوړو کې د خپلو شخصي او ګوندي ګټو او موخو د خوندیتابه لپاره، ولسي او ملي ګټې پایمال نه کړي، دوی باید پر دې پوه شي، چې روان وضعیت د هیڅا په ګټه نه دی، له موجوده وضعیت څخه د زېرېدلو ناوړینو نو زورورې څېې به یوه ورځ د دوی لمن هم واخلي.

مورِ ولې داسې یې؟

دکتور فاروق اعظم

کله چې احمدشاه بابا د یوې لویې امپراتورۍ تر جوړېدو وروسته د کندهار په توبه کې وفات شو (۱۷۷۳ میلادي)، سلطنت یې دده د زامنو د بې اتفاقۍ په وجه له اولې ورځې بیخونده شو. احمدشاه بابا ۸ زامن درلودل: تیمورمیرزا، سلیمان میرزا، شهاب میرزا، سنجر میرزا، یزدان بخش میرزا، سکندرمیرزا، داراب میرزا او پرویز میرزا. د احمدشاه بابا ځای ناستی (تیمور میرزا) د پلار د وفات په وخت کې په هرات کې و. هغه وخت لاړې خرابې او د حمل و نقل وسایل حیوانات وو؛ د خبر رسولو ذرایع هم کمزوري او ابتدایي وو. سلیمان میرزا په کندهار او تیمور میرزا په هرات کې ځانونه پاچاهان اعلان کړل. تیمور میرزا د پلازمینې (کندهار) پرخلاف حرکت وکړ. کله چې تیمور کندهار ته ورسېد، سلیمان یې بندي او د پلار د لوی وزیر (شاه ولیخان) په شمول یې ډېر مهم مشران مړه، بندي او یا فرار کړل. هرڅای بغاوتونه ورته جوړ شول. څرنګه چې نور یې په کندهار کې ځان مطمئن نه ګاڼه او د پلار پر ملګرو یې باور نه درلود ولو هرڅومره پوه، تجربه کار او لائق جنرالان وو، نو پلازمینه یې له کندهاره کابل ته نقل کړه ترڅو هلته نسبتا مطمئن وي. خو بیاهم تیمورشاه خپل د پاچهۍ اکثره وخت د بغاوتونو په ټکولو تېر کړ او پر ۱۷۹۳ کال وفات شو. د تیمورشاه له لسو ښځو څخه ۲۳ زامن پاته شول: همایون میرزا (له سدوزۍ مورې)؛ محمود میرزا او فیروزالدین میرزا (له پوپلزۍ مورې)؛ عباس میرزا او کهندل میرزا (له اسحاقزۍ مورې)؛ زمان میرزا او شجاع الملک میرزا (له یوسفزۍ مورې)؛ احمد سلطان میرزا، محمد سلطان میرزا او یزدان بخش میرزا (له نورزۍ مورې)؛ کشور میرزا، سلطان علي میرزا او نادر میرزا (د نادرافشار له لمسۍ څخه)؛ ایوب میرزا او حسن میرزا (له پوپلزۍ مورې)؛ اشرف میرزا، مظفر میرزا او جهان والا میرزا (له اڅکزۍ مورې)؛ محمد مراد میرزا، میرانی میرزا او حسین میرزا (له محمدزۍ مورې)؛ هاشم میرزا او شاپورمیرزا (د محمد شاه کورګاني له لور څخه). تیمورشاه په داسې حال کې مړ شو چې ولیعهد یې نه و معلوم کړی، که څه هم مشر زوی یې همایون و.

د تیمورشاه تر مرګ سمدستي وروسته د هغه دوه ویشت کلن او پنځم زوی (زمان میرزا) خپل ټول ورونه، په استثناد فیروزالدین او محمود چې هغه وخت په کابل کې نه وو، بندیان کړل. ده خپل مشر ورور (همایون میرزا) ړوند کړ او له نورو یې بیعت واخیست اوخان یې په ۱۷۹۳ کې د افغانستان پاچا اعلان کړ. پاینده خان او ډیر نور مشران یې هم مړه او یا بندیان کړل. پاینده خان د جمال خان زوی و؛ جمال خان د احمدشاه بابا په پاچا کېدو کې مثبت کردار ادا کړی و، نو ځکه شاه ته محترم و. د احمدشاه بابا په حکومت کې د جمال خان د زامنو (رحیمدادخان، بهادرخان، هارون خان) کار ښه جوړ و. د احمدشاه بابا زوی (تیمورشاه) هم د جمال خان د کورنۍ احترام کاوه او د جمال خان بل زوی (پاینده خان) ډېر ورته نژدې او ارشد وزیر یې و. خو شاه زمان هغه مړ کړ.

شاه زمان د فیروز میرزا، محمود میرزا او فتح خان (د پاینده خان زوی) څخه په ارامه پاچهي ونه کړای شوه. بلاخره، محمود میرزا هغه ونیو او ړوند یې کړ او خان یې پاچا اعلان کړ. شاه محمود هم د خپل ورور (شجاع الملک میرزا) له لاسه چې د شاه زمان سکه ورور و په ارامه پاچهي ونه کړای شوه. په ۱۸۰۴ کې شاه شجاع وتوانید چې شاه محمود ونیسي، بندي یې کړي او خپله پاچا شي. شاه محمود له بنده وتښتېد او بیا یې بغاوت وکړ او له شاه شجاع څخه یې پر کال ۱۸۰۹ پاچهي ونیوله. خبره دلته ختمه نه شوه، بلکې د پاچهۍ پر سر د شاه زمان او شاه محمود د زامنو (قیصر میرزا او کامران میرزا) ترمنځ جنګونه وو. د شاه محمود د زوی (کامران میرزا) د خپل پلار دارشد وزیر (فتح خان) څخه ښه نه راتله. خو فتح خان د پلار او نیکه څخه په وطن کې پراخ نفوذ درلود. هغه هوښیار او بانفوذه سړی و او شاه محمود ته یې پاچهي ګټلې وه. فتح خان د خپلو خدمتونو په بدل کې د شاه محمود له خوا ارشد وزیر مقرر و. هغه خپل ۲۱ ورونه د دولت پر حساسو ځایونو مقرر کړي وو. د دوی ټولو پسې اخیستل څه اسانه کار نه و. کامران، لومړی د خپل پلار نظر واړاړوه او په یوه بهانه یې فتح خان ړوند او بیا یې بند پر بند پرې کړ. د فتح خان ورونو بغاوت وکړ او د سدوزو سلطنت یې نسکور کړ (۱۸۲۶ میلادی). په دغه ډول د احمدشاه بابا اولاد د عدم تفاهم، بې اتفاقۍ او خپلمنځي جنګونو په وجه پراخ سلطنت له لاسه ورکړ.

امیر دوست محمد خان (د فتح خان ورور) له سدوزو څخه حکومت ونیو. هغه شل ورونه درلودل او دوی هم د سدوزي شاهانو په شان د پاچهۍ پرسر یو له بل سره سخت وډزول؛ ځینې ورونه په جنګو کې مړه او ځینې یې په بندیخانو کې خاورې شول. د امیر دوست محمدخان تر وفات وروسته د سلطنت پر سر د هغه د ۲۴ زامنو ترمنځ هم ډېر خونړي جنګونه وشول؛ امیر شیرعلي خان ورونو ارام ته پرېنښود او پاچهي به ددوی په منځ کې د توري په زور لاس په لاس کې ده، ترڅو ځینې لاړه.

په ۱۹۲۹ کې نادرخان په افغانستان کې پاچا شو. څلور کاله ورسته هغه ووژل شو او ورونو یې د هغه ۱۹ کلن زوی (محمد ظاهر) پاچا کړ (۱۹۳۳). خو حکومت عملا تر ۲۰ کالو پورې د ظاهرشاه اکاګانو کاوه. په ۱۹۵۳ کې د شاهي کورنۍ زاړه نسل ځای خپل نوي نسل ته پرېښود. ظاهرشاه همهغسې پاچا پاته شو؛ داوود خان صدراعظم، نعیم خان وزیر خارجه او سردار ولي د مرکز د عسکري قواوو مشر وټاکل شو. قدرت نوي نسل ته وسپارل شو خو د صلاحیتونو پر وېش یې تجدید نظر ونه کړای شو. کله چې نادرخان پاچا و نو ورور یې (محمد هاشم خان) چې تر نورو ورونو مشر و، صدراعظم و. کله چې نادرشاه مړ شو او پر ځای یې ځوان او بې تجربه (ظاهر خان) په کورنۍ کې د اتفاق ساتلو په خاطر پاچا وټاکل شو، د ظاهرشاه اکاګان مجبور وو د پاچهۍ کارونه ترهغو خپله سمبال کړي ترڅو اولادونه یې تجربه حاصلوي. په دې ډول محمدهاشم خان د صدارت په چوکۍ کې د پاچاهۍ په صلاحیت کار کاوه چې ټولې کورنۍ ته قابل قبول و. کله چې محمد هاشم خان استعفا وکړه، د هغه ورور شاه محمودخان صدراعظم شو. هغه هم د صدارت پر چوکۍ د هاشم خان په شان د پاچهۍ په صلاحیت کار کاوه او په کورنۍ کې د کشرانو ورباندې اعتراض نه و؛ دا ځکه پاچهي همدغو مشرانو نیولې وه. کله چې شاه محمودخان استعفا وکړه او داوودخان صدراعظم شو (۱۹۵۳)، هغه د دوو اکاګانو په صلاحیت د صدارت پر چوکۍ کار کاوه چې دا په کورنۍ کې نوی نسل ته په زړه کې د قبول وړ نه و. داوودخان د ظاهرشاه په شان دویم نسل او ترهغه په عمر او رتبه کم و. ظاهرشاه او سردار ولي د داوودخان بې حده او حصر صلاحیت په زړه کې نه شوای زغملی. څرنګه چې په افغانانو کې د تفاهم ژبه ډېره کمزورې ده نو د ظاهرشاه کورنۍ هم، حتا مشرانو یې له دې ویرې هسې نه چې خوابدي رامنځ ته شي پردغه مشکل پخپل منځ کې غوره ونه کړ. دوی د صلاحیتونو تجدید نظر ته یا حاضر نه شول او یا اصلا متوجه نه شول. بل لوی مشکل دا و، څرنګه چې زمورِ شاهانو ته د هېواد ګټو لومړیتوب نه درلود، بلکې خپل اقتدار ورته لومړی و، نو په کورنیو نزاکتونو کې به تل راګیر وو. مورِ ډېر وخت د یوه کوچني نزاکت او خوابدۍ د مخنیوي په خاطر لویې تباهۍ ته تللي یو. د ال یحیی د کورنۍ په مورد کې همداسې وشول. ظاهرشاه دا موضوع په کورنۍ کې نه شوای مطرح کولای چې د صدارت د صلاحیت پر حدودو دې غوروشي، هسې نه چې څوک ووایي د ځان لپاره ډېر قدرت غواړي، خو عملا راضي نه و. په ۱۹۶۳ کې یې

۳مخ

مورِ ولې داسې ...

داوودخان ته وویل چې هرځای ولسي انقلابونه دي او مورِ هم له هغو څخه په امان نه شو پاتېدای. ددی لپاره چې اقتدار تل زمورِ سره پاتې وي، مورِ باید په نظام کې تغییر راولو. مورِ باید په ولس کې کار وکړو او د ولس (پارلمان) له لارې هم قدرت خپل کړو چې په دې ډول به هم پاچهي زمورِ په لاس کې وي او هم به حکومت. پاچا به د ملي وحدت د سمبول په حیث او اجرائیوي واک به له صدراعظم سره وي. داوودخان چې نه غوښتل ټول عمر یې د خاندان خولې پر سر او د هغه په موافقهٔ د صدارت پر چوکۍ ناست وي او د ظاهرشاه سره یې پر صلاحیتونو کشمکش وي، موافقه وکړه چې استعفا وکړي، نوی اساسي قانون جوړ او مشروطه شاهۍ ته لار هواره کړي. داوودخان خودخواه سړی و او په دې فکر یې استعفا وکړه چې اساسي قانون به ژر جوړ شي او دی به د ولس لخوا تر اوس په ډېر واک صدراعظم شي. د اساسي قانون جوړېدل دوه نیم کاله وخندول شول؛ په فوج او حکومت کې د داوودخان طرفداران ټول لرې کړل شول او چې ظاهرشاه ښه متیقین شو چې نور د داوودخان وزرونه وترل شول، اساسي قانون یې لویې جرګې ته وړاندې کړ. په اخیره کې یې یوه ماده اساسي قانون ته داخله کړه چې د شاهي کورنۍ څوک نه وکیل او نه وزیر کېدای شي. دلته داوود خان په ځان پوه شو چې دا ټوله پروژه د ده په مقابل کې یوه دسیسه وه. هغه عقده واخیسته او فیصله یې وکړه چې په هرقیمت وي قدرت به نیسي او ظاهرشاه به عزل کوي. هغه اوس یوازې و او په فوج کې یې پخواني ملګري نه وو. په فوج کې بیله روس پلوه کمونستانو بل داسې منظم قوت نه و، چې دی لاس پر تکیه کړي. د هغوی مرسته یې په دې فکر وغوښته چې کار به ځینې واخلي او بیا به یې خوشې کړي؛ داځکه دی پوهیده چې د افغانستان خلک مسلمانان دي او کمونیزم نه مني. هغه په دې هم پوهیده چې د کمونستانو ترشا شوروي اتحاد ولاړ دی، خو بله چاره یې نه لیده او ویل یې چې اوس خو به کار ځیني واخلم بیا به ګورو.

داوودخان د کمونستانو په مرسته کودتا وکړه او پاچهي یې ونیوله. کمونستان هوښیار او د شورویانو مشوره ورسره وه، پخپل وار یې له داوودخانه اعظمي استفاده وکړه. په یوه اونۍ کې یې دوه سوه خلقي معلمان ولسوالان مقرر او په فوج کې یې هم خپل کمونستان پر لوړو چوکیو ځای پرځای کړل؛ ملي او مسلمان مفکرین یې مړه، بندیان او فرار کړل او په دې ډول یې عملا ټول هیواد په کنترول کې راوست. څه وخت وروسته چې داوود خان د ملت د فشار په وجه مجبور شو چې له کمونستانو څخه لار بیله کړي، ویې نه کړای شول. همهغه دده ملګرو او اعتمادي کمونستانو دی او دده د کورنۍ نور شپاړس تنه ښځې، نر او ماشومان په ډېره بیرحمۍ قتل کړل. حکومت او مملکت ټول له تباهۍ سره مخ شول چې تر اوسه یې لرې روانه ده.

لکه وزیر فتح خان او ورونو یې چې شاه محمود ته پاچهي وګټله، داسې ببرک او کمونست ملګرو یې هم داوود خان ته حکومت ونیو. لکه وزیر فتح خان چې د موقع ځخه په استفاده خپل ورونه ددولت پر حساسو منصبونو مقرر کړل، همداسې کمونستانو هم وکړل. لکه شاه محمود چې وروسته غوښته خان د فتح خان له نفوذ څخه خلاص کړي خو ویې نه کړای شول، سر او پاچهي یې دواړه په کې لاړل؛ همداسې داوودخان د کمونستانو او روس له جاله د ځان په خلاصولو ونه توانید او سر، کورنۍ او پاچهي یې ټول لاړل. لکه هلته چې شاهي کورنۍ پخپل منځ کې تفاهم نه درلود، یو له بل سره یې ووهل، پاچهي یې له لاسه ورکړه او ذلیل شول، دلته هم ظاهرشاه او داوودخان د عدم تفاهم په نتیجه کې خپل ځانونه، کورنۍ، قوم او وطن ټول خوار او تباه کړل.

څوارلس کاله وروسته (۱۹۹۲ میلادي) د افغانستان د مؤمن او مجاهد ملت د جهاد له برکته د شوروي سړي لښکري او کمونیزم دواړه مات او مجاهدین بریالي شول. خو د جهاد مشرانو د خپل هیواد له تاریخ څخه پند وانه خیست او همهغه پخوانۍ دردناکه ناخوالې یې تکرار کړې. د جهاد دغو مشرانو چې ځانونه یې پوهان، اسلامي علماء، مفکرین، استادان، مبارکان، مجاهدین اعظم، د اصیل خط پیروان او..... بلل د یو بل پر سر راکټونه او اورول. د هر بې دینه، لامذهبه، ګمراه، پردي او ددین او وطن له دښمن سره یې د خپل اقتدار لپاره سازشونه وکړل؛ د جهاد اهداف او د مجاهدینو ارمانونه یې له خاورو سره خاوري کړل. خپل ځانونه یې هم د ملت پر وړاندې دومره ذلیل کړل چې اوس یې ډېر نژدې دوستان په مجلس کې په نوم اخیستو شرمېږي.

ځینو خلکو ویل چې که غرب ته تللې زمورِ تعلیمیافته خلک راشي، نو ګوندې غرقه بېړۍ مو د نجات ساحل ته لار رومومي. دادی اوس له امریکایانو سره یوځای په غرب کې میشت تعلیمیافته افغانان شبه ډېر راغلي دي. خلکو چې دوی ولیدل، په پخواني کفن کشانو پسې ارمان کوي. تاسې وګورئ چې په افغانستان کې اوس نه د متخصص کمی دی او نه د پیسو. خو وطن تباه او برباد دی؛ دادی لس کاله د نړیوالې ټولنې په مرسته غله، داړه ماران، د بشر د حقوق ناقضین او د مخدره موادو قاچاقبران د افغانستان د خلکو پر مقدراتو مسلط دي. یوې خواته یوسل و پنځوس زره د نړۍ تر ټولو مسلح او مجهز فوج (ناټو) چې د شوروي اتحاد د مقابلې لپاره جوړ شوی و اوس په افغانستان کې دی. سر بیره پردغه ناټو، درې نیم سوه زره افغانان د عسکر او پولیس په شکل استخدام کړي دي. په دې ډول، نیم ملیون د نړۍ تر ټولو مجهز فوج شپه او ورځ زمورِ په کلیو کې د پښتنو پر وژلو لګیا دی. له بلې خوا په دولت کې په ډېره جګه سطحه پردو ته کار کول او په پراخه پیمانه چور روان دی او څوک وطن خپل نه ګني. زمورِ تعلیمیافته ګانو هم په ډېر بد شکل تېر دردناکه تاریخ بیا تکرار کړ؛ د استعمار رویباران او د غلو ملګري شول. چې خارجیانو ورته ووېل چې غورِ دې سپي یوورِ نو ده پسې وځاستل - چې خارجیانو ددوی ورور ته ترهګر ووایه، دوی هم ترهګر ورته ووایه او چې چاته یې حواله کړل چې مړ یې کړي، نو همهغسې یې وکړه.

له بلې خوا که وګورو نور قومونه ټول داسې نه دي. زمورِ ګاونډیانو ته وګورئ. تاسې سعودي عربستان ته وګورئ. ملک عبدالعزیز هلته پاچا و او له ډېرو ښځو څخه یې ډېر زامن پاته شول. دده تر وفات وروسته (۱۹۵۳ میلادي) دده د زامنو په منځ کې د پاچهۍ پر سر زمورِ په شان اختلاف پیدا نه شو چې یو ورور بل ورور ړوند او مړ کړي، بالښت یې پر خوله ورکښېږدي، پر سر یې میخونه ورټک وهي، راکټونه پرې واوروي او پر مړي یې رقص مرده وکړي، پولیګونونه او دښتې په ډک کړي. هلته تر ملک عبدالعزیز وروسته د هغه مشر زوی (سعود) پاچا شو. تر هغه وروسته فیصل، خالد، فهد او عبدالله (اوسنی پاچا) پخپل نوبت پاچاهان شول. سعودي شاهي کورنۍ د ډېره غټه کورنۍ او د مختلفو میندو ورونه دي، خو یو ورور راپورته نه شو چې ووایي زه خپل نوبت ته انتظار نشم کولی او یا د پردیو په لمسون د پاچا کېدو لپاره په شاهي کورنۍ کې شر جوړ کړي، ولس تباه، وطن کنډواله او پردیو ته په هېواد کې د مداخلې لاره هواره کړي.

اوس سؤال دادی: نور ولې نسبتا سم دي او مورِ ولې په پیړیو داسې خوار، ځپلي او دربدره یو؟ ولې یو ناورین مو ختم نه وي، پر بل اوړو؟ پیغمبر (ص) فرمایي چې مسلمان له یوه غاره دوه واره نه چیچل کېږي. مورِ ولې بار بار چیچل کېږو، غلطي تکراروو او له تاریخ څخه پند نه اخلو؟ خواب یې دادی چې مورِ وطن، په ربښتیا خپل وطن نه دی بللی؛ مورِ پردي پردي نه دي ګڼلي؛ مورِ دښمنان لرو خو پېژندلي مو نه دي، نو ځکه ورځخه د ځان د ساتلو لپاره کار نه کوو؛ مورِ نه پخپل منځ کې او نه مو له نورو سره د تفاهم ژبه موندلې ده او مورِ صادقانه تلاش نه دی کړی چې ملي زعامت پیدا او د خپل مستقبل لپاره یو روښانه تصویر جوړ کړو.

لاشهٔ هلیکوپتر رادار ګریز امریکا در...

این گزارش می افزاید، در صورت درست بودن خبر دسترسی پکینگ به این هلیکوپتر، روابط میان پاکستان و امریکا می تواند، تیره تر شود.

این دستگاه یکی از هلیکوپترهای مورد استفاده در عملیات نیروهای امریکایی بوده و طی حمله به منزل "بن لادن" سقوط کرده که لاشهٔ آن، اکنون در اختیار اردوی پاکستان قرار دارد.

گفته می شود، این هلیکوپترها با مخفی کاری از رادار نیروی هوایی اردوی پاکستان، وارد حریم هوای این کشور شده اند.

درپی این گونه سوانح، امریکاییان اکثراً قطعات هلیکوپترها و یا طیاره های جنگنده را از بین می برند تا کسی نتواند، به تکنالوژی آن دسترسی پیدا کند.

هزاران کشته و مجروح، حاصل ...

جنرال کرستن جکوبسن سخنگوی آیساف که به روز دوشنبه با خبرنگاران در کابل صحبت می کرد، گفت که در هنگام اجرای ۵۰ هزار عملیات هوایی آنان، کمترین صدمه به هلیکوپترهایی وارد شده که از آن در اجرای این عملیات، کار گرفته شده است. این جنرال غربی در ادامه افزود: "در جریان سال گذشته آیساف بیش از ۵۰ هزار ماموریت دورانی هوایی را به واسطهٔ طیاره ها انجام داده است. در تمام این ماموریت ها، در مجموع سه طیاره به شمول طیاره یی که هفتهٔ گذشته سقوط کرد، به اثر فعالیت دشمن از بین رفته است". در حالی که نیروهای بین المللی کمک به امنیت در افغانستان، اجرای عملیات نظامی به خصوص عملیات شب هنگام را جهت جلوگیری از نیرومند شدن مخالفان مسلح دولت موثر دانسته و بر ادامهٔ آن تاکید می ورزند، اما مقام های افغان از نتایج این عملیات راضی به نظر نمی رسند و می گویند، چنین عملیات ها تلفات سنگین ملکی را در پی داشته است. به گفتهٔ مقام های افغان، ظرف ده سال اخیر، نیروهای بین المللی به خصوص امریکاییان بدون مشوره با نیروهای افغان با اجرای عملیات شب هنگام هزاران زن و کودک افغان را به خاک و خون کشانده اند.

مقام های افغان هم چنان می گویند که اجرای عملیات نظامی نیروهای بین المللی در دهات افغانستان، در بسیاری موارد مشکلات را برای ساکنان محل به میان آورده که گفته می شود، سبب ایجاد فضای بی اعتمادی میان مردم و نیروهای خارجی و فاصله گرفتن مردم از این نیروها شده است.

مقام های افغان همیشه از عملیات خودسرانهٔ نیروهای خارجی شکایت کرده و آنرا خلاف مصالح علیای افغانستان دانسته اند. این در حالی است که گفته می شود، دولت افغانستان در سال های گذشته، پیمانی را با نیروهای خارجی به امضا رسانده است که برمبنای آن نیروهای ناتو و خارجی حق دارند، در هر کجای افغانستان که خواسته باشند، بدون اخذ نظر جانب افغانستان، دست به عملیات نظامی بزنند و در این راستا نیز مسوول پاسخگویی به هیچ مرجعی نباشند.

با این وجود، اکنون مقام های افغان، در پی انجام حملات قوای هوایی ناتو و وقوع تلفات ملکی، همواره به واکنش ها و عکس العمل های تند مبادرت می ورزند، در حالی که فراموش کرده اند، این کار، تبر و تیشه را به دست نیروهای امریکایی، همین دولتمردان فعال و حاکمان کنونی دادند، که خون ملت افغان را بریزانند و بس.

نقش پاکستان در روند ...

نفوذ پاکستان درافغانستان توسعه می یابد.

مذاکرات با رهبری طالبان زیر این یا آن عنوان می تواند، این حقایق را از دیده پنهان دارد، در حالی که تعیین میعاد معین برای برگشت به میهن و مصالحه برای آنانی که می خواهند، مبارزات شان را از راه های غیر مسلحانه ادامه دهند و یا اعلام عفو عمومی برای آنها، و ادامهٔ فشار نظامی بر مخالفان بهترین سیاست پنداشته می شود. خطر دیگری نیز، آیندهٔ مردم افغانستان را تهدید می نماید. هرگاه طالبان در نرمترین شکل آن با قبول شرایط گذاشته شده از سوی جامعهٔ جهانی (احترام به قانون اساسی افغانستان، قطع رابطه با القاعده و گذاشتن اسلحه بر زمین) وارد حیات سیاسی کشور گردند، خطری آیندهٔ مردم را تهدید خواهد کرد.

در حالی که این حاکمیت تا کنون نتوانسته تامین گردد، هیچ تضمینی وجود ندارد که طالبان در همزیستی با نیروهای جهادی حاکم به حاکمیت قانون تن در دهند. افغانستان بدون توجه و تغییرات لازم یا به پاکستان دومی مبدل خواهد شد و یا به میدان جدید مبارزه میان نیروهای افراطی و غیر افراطی. در نرمترین شکل آن ما شاهد سلطهٔ تعصب فکری برای سال های دراز در این کشور خواهیم بود.

د ناټو درې سرتېرې د مرګ...

د روان زبردي کال له پیله راهیسې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د ناټو د وژل شویو سرتېرو شمېر ۳۹۸ تنو ورسېد. همداشان د یوه بل خبر له مخې، پرون په سروبي بازار کې له دوو چاودنو وروسته، چې د ملي اردو پر ځواکونو وشوې، د کابل-جلال اباد لویه لار د ترافیکو پر مخ وترل شوه. د سروبي ولسوال حضرت محمد حقبین د زمري پر ۲۴مه پڑواک ته وویل، چې لومړی چاودنه وروسته له غرمې په یوه بجه او ۱۵ دقیقې د سروبي بازار د اوزبین په اډه کې ولاړ د ملي اردو پر یوه موټر وشوه. هغه زیاته کړه، چې د ده د معلوماتو له مخې چاودنه د ملي اردو د یوه سرتېري د راکټ د مرمۍ د چاودنې له امله شوې ده. ولسوال وایي، کله چې د ملي اردو ځواکونو دغه سرتېری روغتون ته لېږداوه، نو د سروبي د بازار د پله پر سر د دغو ځواکونو پر همدغه موټر بله چاودنه رامنځ ته شوه. حقبین وویل، چې په دغو چاودنو کې د ملي اردو پنځه سرتېري وژل شوي او یو شمېر نور یې ټپیان دي او رینجر موټر یې هم په بشپړه توګه سوځېدلی دی. د سروبي په بازار کې د رحیم الله په نامه یوه دوکاندار وویل، چې د چاودنو پر مهال خلکو فکر کاوه، چې ګواکي ځانمرګیان راغلي دي. هغه زیاته کړه، چې له لومړی چاودنې وروسته وټرل شول او خلک له بازاره ووتل.

نقش پاکستان در روند مصالحه

نگارنده: دکتراندس م.نبی هیکل

درحالی که هدف مصالحه با مخالفان مسلح به گونهٔ اساسی، اصولی و واحد تعریف نشده است، همه جوانب بر نقش پاکستان در مصالحه و تامین صلح تاکید دارند. در حالی که مصالحه با طالبان برای مردم افغانستان باید مطابق منافع ملی تعریف وعملی گردد، از نگاه ابزاری می تواند، برای اهداف جامعهٔ بین المللی و ایلیت حاکم سیاسی بر افغانستان، خدمت نماید.

در افغانستان جایی که عنصر تنازع در فرهنگ حاکم بر عنصر تفاهم قوت دارد، بر تعریف منافع ملی نیز، اختلاف وجود دارد. دلایلی موجب گردیده، تا چهارچوب سیاست خارجی افغانستان مطابق مادهٔ هشتم، یازدهم، هفتاد و پنجم و هفتادو ششم قانون اساسی کشور فورمولبندی و تطبیق نگردد. بدین ترتیب، مشی حکومت و مقام های حکومتی از اساس قانونی و مشروع عملکرد در روابط بین المللی بخصوص برای مذاکرات با نیروهای مسلح مخالف و جوانب دیگر برخوردار نیست. حکومت در این رابطه در برابر پارلمان کشور مسوولیت جوابدهی را دارد و پارلمان در برابر ملت. دلایلی وجود دارد که همه در رابطه به نقش موثر پاکستان در مصالحه با طالبان متفق القول اند. این دلایل کدام ها اند که بر اساس آنها پاکستان می تواند، نقش موثری را در مصالحه و قطع جنگ ایفا نماید؟ پاکستان تنها همسایهٔ هم مرز با افغانستان نیست و نه هم تنها کشوری می باشد که در گذشته برای سال ها مهاجران افغان را مهمان داشته است. پاکستان می تواند در دو عرصه نقش مهم ایفا نماید: به حیث پارتنر در جنگ علیه تروریزم و به حیث حامی مخالفان مسلح افغانستان. هر دو مسألهٔ دشوار و پیچیده بخصوص با این حقیقت گره خورده است که پاکستان به حیث یک پدیدهٔ هایبراید زیست دارد که بر آن حکومت ملکی و نظامی از یکسو و دموکراسی و افراطگرایی از سوی دیگر به صورت همزمان حکومت می نمایند. این همه عوامل به حیث میکانیزم کنترول و توازن عمل می نماید و سیاست هایبراد به حیث نتیجهٔ همزیستی آنها تبارز می نماید. عناصر نظامی و مذهبی حاکم در آنکشور با تمایلات سیاسی پاکستان سازگاری دارد و در نتیجه، به هژمونیزم منطقه یی آن خدمت می نماید. پاکستان همچنان نمی خواهد، افغانستان به حیث یک دولت مستقل و مقتدر تبارز نماید. به دلایل یاد شده پاکستان به این سیاست تا حدی ادامه خواهد داد که ممکن می باشد. راه حل را باید در تامین حاکمیت دموکراسی بر نظامی گری و افراطیت از یکسو و اعمال سیاست تنبیه و پاداش بر حکومت پاکستان جستجو نمود. رویا رویی حکومت ملکی با آن دو دیگر که از وابستگی نزدیکتر در این مثلث باهم برخوردار اند، ممکن است، به سقوط حکومت ملکی و استقرار حکومت نظامی منتهی گردد. فشار متحدانهٔ جامعهٔ بین المللی می تواند، پاکستان را از راه تهدید به انزوای سیاسی و اقتصادی به همکاری وادارد. همکاری صادقانه در این جنگ با منافع ملی پاکستان در سازگاری قرار دارد.

پاکستان به حیث پارتنر در جنگ علیه تروریزم:

از آنجایی که سیاست بازی با این عناصر توانسته طی سال های دراز هم به حیث منبع درآمد سرشار، موثریت خود را ثابت نماید وهم در رابطه با افغانستان موثر باشد، نقش پاکستان در جنگ علیه تروریزم به حدودی منحصر باقیمانده که از یکسو جنگ را بتواند تداوم بخشد و از سوی دیگر عوامل آنرا فعال نگه دارد. به عبارت دیگر، پاکستان هم به حیث پارتنر جنگ علیه تروریزم مدارک مالی به دست آورده و هم تروریزم را به حیث تضمین درآمد ناشی از جنگ علیه تروریزم سرپا نگه داشته است. پارادگم سمبولیک انتراکشنیزم ما را در این توضیح کمک می نماید. پاکستان بدین ترتیب هم برای مبارزه با افراطگرایی وجوه مالی به دست می آورد و هم برای حفظ تاسیسات ذروی و از سوی دیگر برای توسعهٔ ساحهٔ نفوذ سیاسی از گروپ های مسلح استفاده می نماید. گروپ های مسلح فعال تحت حمایت در آن کشور مانند طالبان افغانی، طالبان پاکستانی، لشکر طیبه و.. .در این سیاست به حیث ابزار اعمال فشار پاکستان خدمت می نمایند. در این امتداد سیاست دول درگیر در جنگ علیه تروریزم (بخصوص امریکا) را نیز می توان مورد سوال قرارداد. این کشورها یا باید ساده تر از نگارنده باشند و یا دلیل دیگری برای سیاست شان در این جنگ بخصوص در برابر پاکستان داشته باشند. دواین دلیل استراتیژیک مشهود را باید در این رابطه به یادداشت ۱). پاکستان در موقعیت استراتیژیک خود به حیث یک کشور دارای اسلحهٔ ذروی نمی تواند نادیده گرفته شود.

۲). همکاری پاکستان بادرنظرداشت همهٔ آنچه گفته شد، به حیث پارتنر در جنگ علیه تروریزم حتمی و ضروری می باشد؛ زیرا پاکستان از یکسو منبع خطر واقعی می باشد و از سوی دیگر، از نفوذ لازم بر افغانستان برخوردار است. گذشته از آن پاکستان از لوبی نیرومند در بریتانیا و ایالات متحده برخوردار می باشد. باید افزود در حالیکه ناتو در افغانستان بر اساس فیصلهٔ شورای امنیت سازمان ملل حضور یافته، برای عملکرد نظامی در پاکستان به توافق و همکاری پاکستان نیاز دارد.

موجودیت یک حکومت فاسد و ناتوان از لحاظ مالی، نظامی و اداره و وابستگی سیاسی، اقتصادی، فکری و نظامی آن حکومت که نمی تواند به حیث جانب سیال و برابر عمل نماید، محدودیتی را بر موثریت جنگ علیه تروریزم وضع می نماید. این محدودیت جامعهٔ بین المللی را با پاکستان به حیث یگانه پارتنر در جنگ علیه تروریزم در روابط ناگزیر قرار می دهد.

پاکستان می تواند، نقش سازنده و تعیین کننده را در جنگ علیه تروریزم ایفا کند. سازنده گی و تعیین کننده بودن نقش پاکستان در این حقیقت نهفته است که پاکستان نه تنها حامی دسته های دهشت افگن است، بلکه به حیث مقر، منبع پرورش، تسلیح و تمویل این دسته ها نیز خدمت می نماید. پاکستان با سلب حمایت و نابود کردن لانه های تروریزم می تواند، نقش تعیین کننده و سازنده یی را در این جنگ ایفا نماید. این دو شرایط ضروری موفقیت جنگ علیه تروریزم در این منطقه می باشد، مگر نمی تواند بسنده شمرده شود.

نقش افغانستان و ایران، ازبکستان و تاجکستان و همسایگان دور نیز، دارای اهمیت است؛ زیرا در حالی که انگیزه های جنگ و محرکه های آن (جهاد یا روحیهٔ ضد امپریالیستی، خصومت و) با قوت باقی می ماند، لانه ها می تواند منتقل گردد و افراد و دسته ها به حیث ابزار سیاسی تحقق اهداف دیگری به خدمت گماشته شود.

نقش پاکستان در مصالحه با نیروهای مخالف مسلح افغانستان:

اکنون این سوال پیش می آید که پاکستان در این روند در کدام هویت عمل می نماید؟ به حیث همسایهٔ افغانستان پاکستان حق ندارد، قلمرو خود را به حیث تخته خیز در اختیار مخالفان یک کشور همسایه قرار دهد. پاکستان از این هم فراتر رفته و به مثابهٔ منبع خطر به همسایگان دور و نزدیک و جامعهٔ جهانی عمل می نماید. نیروهای مسلح مخالف طالبی در همکاری ارگانیک و میکانیک سایر دسته ها بخصوص القاعده و طالبان پاکستانی تحت حمایت حلقه های دولت پاکستان به اعمال خرابکارانه می پردازند. سیاست صادقانه در جنگ علیه تروریزم و سیاست حسن همجواری خواهان برعکس آنچه می باشد که حکومت پاکستان انجام می دهد. در صورتی که پاکستان از زمرهٔ نیروهای مخالف افغانستان را حمایت و تمویل می نماید، پاکستان در نقش طرف مذاکرات صلح و طالبان در نقش ابزار سیاسی پاکستان قرار می گیرد. ممکن است، این جمعبندی خیلی شتابزده باشد و بدین سبب لازم است، پیش از آن به تعریف نیروهای مخالف افغانستان پرداخته شود، تا انصاف و عدالت در قضاوت رعایت گردد.

نیروهای مسلح مخالف کی ها اند؟

نیروهای مسلح مخالف را که در جنگ علیه تروریزم در برابر افغانستان می رزمند، می توان متشکل از دسته های زیر دانست:

۱.طالبان مربوط به امارت اسلامی طالبان: این دسته عبارت از سربازان اعتقادی اند که برای تاسیس مجدد حکومت اسلامی در افغانستان می جنگند و از سه راه با گروه القاعده پیوستگی دارند: از نگاه اعتقادی یا همفکران و یا فرزندان فکری القاعده به شمار می روند، از لحاظ قوای بشری آنها با القاعده و القاعده با آنها همکار اند و بدون شک از لحاظ مالی نیز، با هم همکاری دارند.

برخی ها طالبان را به دسته های افراطی و میانه رو و برخ دیگر به اصلی و نقلی دسته بندی می نمایند. این دسته بندی برای ارزیابی کنونی نمی تواند سودمند باشد؛ زیرا اصل وابستگی برای ما در این بحث اهمیت دارد. در بحث کنونی این اصل معیار قرار داده می شود که نیروهای ناراض ملی دارای دو مشخصهٔ عمده اند: از لحاظ اندیشه و عمل مستقل اند و در هیچ شرایطی برخلاف منافع ملی کشور خود عمل نمی نمایند.

۲. دسته هایی از افرادی که در نتیجهٔ بی انصافی و مظالم حکومت افغانستان و جامعهٔ جهانی به صفوف مخالفان پیوسته اند. حکومت افغانستان و نظامیان جامعهٔ جهانی در طول سال های گذشته به حیث ماشین تولید و تشویق مخالفت عمل کرده که در نتیجهٔ آن افراد وادار گردیده اند، به صف مخالفان بپیوندند.

۳.دسته های فرصت طلب: فقدان حاکمیت قانون از یکسو و وجود مخالفت مسلحانه از سوی دیگر موجب گردیده، دسته هایی از افراد برای سودجویی و یا انتقام از فرصت استفاده نمایند و به این یا آن نام فعالیت نمایند. حکومت افغانستان و جامعهٔ جهانی باید بر اصل عدم وابستگی طالبان(به القاعده و پاکستان) را به حیث شرط دیگر تاکید نمایند؛ زیرا مصالحه با طالبان از راه پاکستان و سهیم ساختن رهبری طالبان در حکومت آینده از یکسو به معنای تمدید و تکمیل وابستگی از قبل موجود در افغانستان خواهد بود که در نتیجهٔ آن ساحه ص۳

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده بیست و نهم: ۱- هردولت عضو این کنوانسیون میتواند اصلاحیه ای به آن، پیشنهاد کند و متن آن را نزد سرمنشی سازمان ملل بسپارد. سرمنشی هر طرح اصلاحی پیشنهادی را برای دولتهای عضو این میثاق ارسال خواهد داشت و از آنها درخواست خواهد کرد که به او اعلام دارند آیا با تشکیل کنفرانسی از دولتهای عضو بمنظور رسیدگی و گرفتن رای در باره طرحهای پیشنهادی موافق هستند؟ درصورتی که حداقل یک سوم دولتهای عضو خواهان تشکیل چنین کنفرانسی باشند، سرمنشی کنفرانس را تحت نظر و توجه سازمان ملل تشکیل خواهد داد. هر اصلاحی که موردقبول اکثریت دولتهای حاضر عضو و رای دهنده در کنفرانس قرار گیرد، به وسیله سرمنشی به تمام کشورهای عضو برای پذیرفتن، ارسال خواهد شد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیګوال خپل نظر دی، ورځپاڼې یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com